# په اسلامي اقتصاد کې د متناقصه مشارکې څرنګوالی

پوهنیار سباوون حماس

د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ، د شرعیاتو پوهنځي، د کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

ایمیل: Sabawoon.hamas78@gmail.com

**لنډیز**

متناقصه مشارکه په اسلامي اقتصاد کې د تمویل له مهمو وسایلو څخه ده چې په اوسني وخت کې رامنځته شوې ده، متناقصه مشارکه کې معمولا بانک د یوې پروژې د مالي ملاتړ په موخه له پانګوال سره د مشارکت پر بنسټ تړون کوي، چې د پانګوال د موخې ترلاسي وروسته بانک خپله ونډه پر پانګوال پلوري، متناقصه مشارکت بېلابېلې بڼې لري چې په ګڼو برخو کې د پلي کېدلو وړتیا لري، متناقصه مشارکه د شرعي حکم په اړوند د فقهاو ترمنځ درې نظریې شته، غوره نظر هغه دی چې نوموړې مشارکه د یو لړ شرطونو په شتون کې روا بولي.

**اړوینه:** مشارکة؛ متناقصه؛ اسلامي اقتصاد؛ اسلامي بانکوالی، فقهي شرکت

# The Concept of Diminishing Musharakah from the Perspective of Islamic Economics

**Jr. Teaching Asstt. Sabawoon Hammas**

Department of Islamic Studies, Faculty of Shariah, Kabul University, Kabul, Afghanistan.
Email: Sabawoon.hamas78@gmail.com

**Abstract**

The concept of Musharakah (partnership) in Islamic economics refers to a financing type involving sharing equity. Diminishing Musharakah, a form of partnership, is a key mechanism for facilitating projects within the Islamic economic framework. Recently introduced, this arrangement involves a bank entering an agreement with shareholders to fund a venture, whereby the bank's equity stake gradually decreases over time as the shareholders purchase portions of the equity. While the shareholders achieve their objectives, the bank also realizes benefits by selling its ownership share back to the shareholders. Diminishing Musharakah can take various structures and be applied in different sectors. Regarding its legal validity, Islamic law scholars hold three main perspectives, but the view that upholds it as compatible with Islamic principles of fairness and equity sharing when appropriately implemented is most appropriate.

**Keywords:** Musharakah; Diminishing; Islamic economics; Islamic banking; partnership

**مقدمه**

الحمد لله رب العلمين، والصلاة والسلام على خير خلقه محمد، و على آله و أصحابه أجمعين.

**أما بعد:** د اسلام اقتصادي نظام داسې يو نظام دی چې په هر وخت او هر ځای کې د پلي کېدلو وړتيا لري، اسلامي ټولنې ته پکار ده چې ټولې اقتصادي راکړې ورکړې د اسلامي اقتصاد له بنسټونو سره سمې تر سره کړي.

همدارنګه اسلامي اقتصاد د هر ډول مالي ملاتړ لپاره عادلانه وسايل لري، پانګوال او کوچني کاروباريان کولی شي د دې وسايلو څخه ګټه واخلي، متناقصه مشارکه چې په اسلامي اقتصاد کې د شرکت يو ډول دی، په اوسني وخت کې په بېلابېلو برخو کې د پانګونې لپاره د سودي تمويل ښه او مناسب ځايناستی بلل کېږي، متناقصه مشارکت کې بانک د پروژو د تمويل په موخه پانګوال د همدې مشارکت پر بنسټ تمويلوي او د پانګوال د موخې لاسته راوړلو وروسته بانک، پانګوال ته دا حق ورکوي چې د بانګ ونډه د بازار په نرخ په يوځل او يا پړاويزه توګه تر لاسه کړي، په دې سره به د پروژې ټول ملکيت پانګوال ته ولېږدول شي، دغه څېړنه د شرکت له ډولونو څخه يوازې د متناقصه مشارکې او د هغې د احکامو بيان په موخه تر سره شوې چې د دې مقالې په ترڅ کې به روښانه شي.

**د څېړنې اهميت**

افغانستان يو اسلامي هېواد دی، ټول پانګوال او د کاروباريان غواړي چې له روا لارو چارو څخه مالي ملاتړ تر لاسه کړي، متناقصه مشارکه يو له هغو تړونونو څخه ده چې د لويو، منځنيو، کوچنيو پروژو او کاروبارونو د تمويل وړتيا لري، اسلامي بانکونه کولای شي چې د نوموړي تړون پر بنسټ په هيواد کې اړينې او ټولګټې پروژې تمويل کړي.

**څېړنموخې**

دا څېړنه لاندې موخې لري.

۱. په اسلامي اقتصاد کې د شرکت تړون هر اړخيزه څېړنه؛

۲. په اسلامي اقتصاد کې د متناقصه مشارکې هر اړخيزه څېړنه او په اوسني وخت کې د نوموړې مشارکې د ارزښت بيان؛

۳. په افغانستان کې د اسلامي بانکونو لپاره د روا لارو چارو په مرسته، د اړينو او ګټورو پروژو د تمويل غوره وسايلو بيان؛

۴. د اسلامي شريعت هر اړخيزتوب او په هر ځای او وخت کې يې د پلي کېدلو د وړتيا بيان.

د څېړنې د غوره والي لاملونه

ددې څېړنې د غوره والي لاملونه په لاندې توګه دي

۱. اسلامي بانکونه په افغانستان کې په دې وروستیو کې د پرمختګ په حال کې دي، متناقصه مشارکه د نومووړو بانکونو لپاره د پروژو د تمویل غوره وسیله ده.

۲. متناقصه مشارکه نوی موضوع ده، د موضوع نوی والي غو ښتنه کوي چې نوموړې موضوع په روانه پښتو ژبه و څېړل شي.

۳. د څېړونکي شخصي شوق او علاقه د اسلامي اقتصاد او بانکوالۍ سره، او د موضوع اړوند د پوره معلوماتو لاسته راوړل.

**د څېړنې پوښتنې**

نوموړې څېړنه لاندې پوښتنې ځوابوي

۱. په اسلامي اقتصاد کې د شرکت تړون څه ډول تړون دی؟

۲. په اسلامي اقتصاد کې د متناقصه مشارکې تړون څه ډول تړون دی؟

۳. په اسلامي اقتصاد کې متناقصه مشارکه څه حکم لري؟

۴. په اسلامي اقتصاد کې د متناقصه مشارکې اهمیت او د پلي کېدلو ځایونه کوم دي؟

۵. ایا په افغانستان کې متناقصه مشارکې پلي کېدلو ته اړتیا شته؟

**د څېړنې مخینه**

د متناقصه مشارکې اړوند ځینې لیکنې چې په بهرنیو ژبو شوې دي او په بېلابېلو کتابونو کې شته، د بېلګې په توګه د (مجلة مجمع الفقه الاسلامي) چې د فقهي څېړنو لپاره ځانګړې مجله ده یادوو، په نوموړې مجله کې د متناقصه مشارکې اړوند ځینې لیکنې شته، خو نوموړې لیکنې د متناقصه مشارکې ټول اړخونه، په افغانستان کې یې د پلي کېدلو ځایونه، او ځینې نور اړین موضوعات په پښتو ژبه نه دي څېړلي، له همدې امله دا څېړنه د متناقصه مشارکې اړوند په پښتو ژبه تر سره شوې، الله تعالی نه سوال کوم چې دا څېړنه د لوستونکو لپاره ګټوره او د خپلې رضا لپاره وګرځوي.

**څېړندود**

نوموړې څېړنه د تحلیل او شننې پر بنسټ شوې، هڅه شوې چې د موضوع اړوند موضوعاتو شننه ترسره او پایله یې برسیره شي، د نوموړې څېړنې په ترسره کولو کې د معتبرو سرچینو او مصادرو څخه ګټه اخستل شوې چې نوملړ یې د څېړنې په پای کې شته دی.

**د فقهي شرکت پېژندنه**

متناقصه مشارکت يو له هغو مهمو تړونونو څخه شمېرل کېږي چې ګڼ شمېر اسلامي بانکونه او مالي بنسټونه يې د تمويل په موخه ترسره کوي او د سودي راکړو ورکړو پر ځاي د کوچنيو او لويو پروژو د تمويل لپاره غوره ځای ناستی ګڼل کېږي.

په همدې اساس لازمه ده چې نوموړی تړون د اسلامي اقتصاد له نظره وڅېړل شي او حکم يې بيان شي، دا چې معاصر متناقصه شرکت د پخوانيو فقهي شرکتونو زېږنده ده، د دې لپاره چې د متناقصه شرکت حکم بيان شي، معاصر فقها د فقهي ځرنګوالي پرمټ د متناقصه مشارکت ورته والی له هغو شرکتونو سره چې پخوانيو فقهاو بيان کړي څېړي، او د هر شرکت سره چې ورته والی ولري د همغه شرکت احکام پرې پلي کوي، مخکې له دې چې د متناقصه مشارکت ځرنګوالی د اسلامي اقتصاد له نظره روښانه کړم په لنډه توګه د فقهي شرکت مفهوم ذکر کوم.

شرکت په لغت کې ګډولو ته ويل کېږي[۱۵۵]، او په اصطلاح کې فقهاو د هغه ډول ته په کتو تعريف کړی دی، مګر د شرکت عام تعريف چې د شرکت ټول ډولونه په بر کې و نيسي د يوشي په استحقاق او تصرف کې له يو څخه د زياتو وګړو ګډون ته شرکت ويل کېږي[۱۵۵]، د شرکت دا تعريف د هغه دواړه ډولونه په بر کې نيسي: په استحقاق کې يو ځای والي د ملك شرکت، او په تصرف کي يو ځای والی د تړون (عقد) شرکت بلل کېږي.

**د شرکت د روا والي دليلونه**

ټول فقها په دې اتفاق لري چې د شرکت تړون روا دی، او د نوموړي تړون د روا والي لپاره يې ګڼ دليلونه ذکر کړي چې ځينې يې په لنډه توګه يادوو:

۱. الله تعالی فرمايي: وَإِنَّ كَثِيراً مِنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ[۱۵٦]

ژباړه: او ډېر شريکان ځينې يې پر ځينو تېری کوي.

په پورته مبارك ايت کې طاووس، عطاء، طبري، بغوي او امام بخاري رحمهم الله په اند د (الْخُلَطَاءِ ) څخه موخه شريکان دي[۱۵۷]

---

۱۵۵. ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين عبد الله (المتوفى: ٦٢٠هـ)، المغني، چاپ خونه: مكتبة القاهرة، ج٥ ص٣.

۱۵٦. سورت ص ايت ٢٤.

۱۵۷. القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد (المتوفى: ٦٧١هـ)، الجامع لأحكام القرآن، څېړونکی: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، چاپ خونه: دار الكتب المصرية – القاهرة، دوهم چاپ، چاپ کال: ١٣٨٤هـ ، ج١٥ ص١٧٩.

۱. عن أبي هريرة رفعه قال إن الله يقول: أنا ثالث الشريكين ما لم يخن أحدهما صاحبه، فإذا خانه خرجت من بينهما[۱۵۸]

ژباړه: له ابی هریره رضی الله تعالی عنه څخه مرفوعا روایت دی هغه وایي چې الله تعالی فرمايي: زه د هغو دوه شريکانو دریيم یم چې یو له بل سره خیانت ونه کړي، او که یو له بل سره خیانت وکړي زه یې له منځه بهر کیږم.

پورته حدیث د شرکت تړون په روا والي باندې ښکاره دلالت کوي.

۲. اجماع: ټولو فقهاو د شرکت تړون په روا والي اجماع کړې[۱۵۹] او هیڅ عالم د شرکت تړون ناروا نه بولي.

**د شرکت ارکان**

د شرکت تړون د ارکانو اړوند د حنفی مذهب او جمهورو فقهاو ترمنځ د نظر توپیر شته.

د حنفی مذهب مطابق د شرکت تړون یو رکن لري چې عبارت له صیغې ( ایجاب او قبول) څخه دی [۱۶۰]

د جمهور فقهاو له لیده د شرکت تړون درې ارکانه لري له: صیغه( ایجاب او قبول)، عاقدان( تړون کوونکي)، معقود علیه(مال) څخه عبارت دي[۱۶۱]

**د شرکت شرطونه**

د شرکت تړون شرطونه په درې برخو وېشل شوي چې په لاندې ډول یې په لنډ ډول لیکو:

الف- د عاقدینو شرطونه[۱۶۲]: هغه کسان چې د شرکت تړون ترسره کوي باید ۱. له یو څخه زیات وي. ۲.عاقل وي ۳. د ګټې او تاوان پېژندونکي او توپیر کوونکي وي.

ب- د شرکت د پانګې شرطونه[۱۶۳]: ۱. پانګه باید د شرکت تړون پر مهال په نغده توګه شتون ولري.

---

۱۵۸. أبو داود، سليمان بن الأشعث (المتوفى: ۲۷۵هـ)، السنن، څېړونکی: شعَيب الأرنؤوط او محمد کامل، چاپ خونه: دار الرسالة العالمية

لومړی چاپ، چاپ کال ۱۴۳۰ هـ ، کتاب البیوع، باب فی المضارب یخالف، ج۵ ص۲۶۵.

۱۵۹. ابن قدامه، المغني، ج۵ ص۳.

۱۶۰. بلخ، نظام الدين البلخي وجمع من العلماء، الفتاوي الهندية، چاپ خونه: دار الفكر ، دوهم چاپ، چاپ کال ۱۳۱۰ هـ، ج۲ ص۳۰۱.

۱۶۱. الصاوي، ابوالعباس أحمد بن محمد (المتوفى: ۱۲۴۱هـ)، الشرح الصغير وحاشية الصاوي، چاپ خونه: دارالمعارف، ج۳ ص۴۵۷.

۱۶۲. زحيلي، وهبه، الفقه الاسلامي وآدلته، چاپ خونه دارلفکر، سوریه، ج۵ ص ۳۸۹۰.

۱۶۳. الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، .(المتوفى: ۵۸۷هـ). چاپ خونه:دار الكتب العلمية، دوهم چاپ، چاپ کال۱۴۰۶هـ ، ج۶ ص۵۹-۶۰.

۲ . پانگه باید د نغدو پیسو په شکل کې وي، دا نظر د امام ابو حنیفه او امام احمد ابن حنبل دی، د امام مالك له لیده د ټولو شریکانو د پانګې نغد والی اړین نه ده. که د کوم شریك پانګه د توکیو له ډلې څخه وي هغه دې د بازار په نرخ قیمت شي او شرکت سم دی، خو امام شافعي مذهب دادی که د شرکت پانګه د مثلي اموالو له ډلې څخه وي شرکت سم، او که دقیمي اموالو له ډلې څخه وي شرکت نا سم دی.

ج- ګټې شرطونه: ۱. ګټه باید معلومه وي. ۲. ګټه باید د برخې یا سلنې په توګه له حقیقي ګټې څخه معلومه او وټاکل شي، که چېرې ګټه په ټاکلې توګه د پانګونې پر بنسټ وټاکل شي روا نده[١٦٤]

**د شرکت ډولونه**

شرکت په عمومي توګه په درې ډوله وېشل کېږي[١٦٥]:

۱. ملك شرکت: دا ډول شرکت د تړون پرته په مال کې د دوه یا زیاتو کسانو شرکت ته ویل کېږي نوموړی شرکت به یا په اختیاري ډول وي لکه د دوه کسانو لپاره د یوشي وصیت وشي او دوی یې په خپله خوښه ومني، او کله نوموړی شرکت اجباري وي لکه په میراث کې چې دوه وروڼه له پلار څخه په میراث پرېښودل شوي مال کې شریکان دي[١٦٦].

۲. تړون(عقد) شرکت: نوموړي شرکت لپاره ډېر تعریفونه ذکر شوي دي چې تر ټولو غوره تعریف یې عبارت دی: عقد شرکت هغه تړون(عقد) دی چې پر بنسټ یې وګړي په ګټه او سرمایه کې شریکان وي[١٦٧]

د یادولو وړ ده چې په دې ډول شرکت کې ګډونوال په ګټه کې د هوکړې پر بنسټ، او په تاوان کې د پانګې په اندازه شریکان دي.

پورته تعریف ځکه غوره دی چې د شرکت حقیقت یې په عقد(تړون) سره بیان کړی دی، او نور تعریفونه چې د دې شرکت لپاره ذکر شوي ټول د عقد شرکت موخو او پایلو پر بنسټ ترسره شوي دي.

---

١٦٤. پورته منبع.

١٦٥. دبیان، أبو عمر دبیان بن محمد، المعاملات المالية أصالة ومعاصرة، چاپ خونه، مكتبة الملك فهد الوطنية، چاپ کال ١٤٣٢ هـ، ج١۴ ص٣٣.

١٦٦. قلعه جي، محمد رواس، المعاملات المالية المعاصره في ضوء الفقه والشريعة، دارالنفائس، بیروت لبنان، دوهم چاپ، کال١۴٢٣هـ ق، ص۵۴.

١٦٧. ابن عابدين، محمد أمين بن الحنفي (المتوفى: ١٢۵٢هـ)، رد المحتار على الدر المختار، چاپ خونه: دار الفكر-بیروت، دوهم چاپ، چاپ کال١۴١٢هـ ، ج۴ ص٢٩٩.

۳. اباحت شرکت: په مباح او هغه توکو کې چې د هیچا ملکیت نه وي لکه اوبه، واښه، او نورو... کې د وګړو شرکت ته د اباحت شرکت ویل کېږي، نوموړی شرکت یواځې په حنفي مذهب کې شته [۱۶۸] دا چې د ملك او اباحت شرکت د معاوضاتو له ډلې څخه نه دي، ترینه صرف نظر کوو. د عقد(تړون) شرکت په پنځه ډوله وېشل کېږي[۱۶۹]:

۱. عنان شرکت: دا هغه شرکت دی چې شریکان په پانګه او کار دواړو کې، پرته له برابر والي شریک وي.
۲. مفاوضه شرکت: دا هغه شرکت دی چې شریکان په کار او پانګه کې د برابروالي په نظر کې نیولو سره شریک وي.
۳. ابدان شرکت: دې شرکت ته د اعمال شرکت هم ویل کېږي، دا هغه شرکت ده چې شریکان د کار په ترسره کولو او خلکو ته په خدمت وړاندې کولو کې شریکان وي، او کومه ګټه چې د ګډو خدماتو په پایله کې لاسته راوړي په خپل منځ کې وېشي.
۴. وجوه شرکت: هغه شرکت دی چې د نغدو پیسو پرته شریکان د خپل باور او مخورتوب پر بنسټ توکي په پور اخلي او په نغده یې په ګټه پلوري، په ګټه کې سره شریکان وي[۱۷۰].
۵. مضاربت شرکت: دا هغه شرکت دی چې سرمایه له یو لوري او کار له بل لوري څخه وي[۱۷۱].

**د متناقصه مشارکت تعریف**

د شرکت تړون په اسلامي اقتصاد کې د کوچنیو او منځنیو پروژو د تمویل لپاره خورا مهمه وسیله بلل کېږي، د شرکت تړون په دوه ډوله ترسره کېږي، لومړی ثابت شرکت تړون دی چې ملکیت په کې د شریکانو لپاره دایمي وي، دویم یې لنډمهاله شرکت دی چې د متناقصه مشارکې په نوم یادېږي، نوموړی شرکت د لومړي ځل لپاره په مصر کې د یو سوداګریز بانک له لوري را منځته شو[۱۷۲].

---

۱۶۸. أفندي، علي حیدر (المتوفى: ۱۳۵۳هـ)، درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، چاپ خونه: دار الجیل، لومړی چاپ، چاپ کال ۱۴۱۱هـ ،ج۳ ص۶

۱۶۹. زحیلي، وهبه، الفقه الاسلامي وآدلته، ج۵ ص۲۸۷۸.

۱۷۰. قلعه جي، محمد رواس، المعاملات المالیة المعاصره في ضوء الفقه والشریعة، ص۵۴-۵۵.

۱۷۱. پورته منبع، ص۷۱.

۱۷۲. شبیر، محمد عثمان، المعاملات المالیة المعاصره فی الفقه الاسلامي، چاپ خونه، دار النفائس، عمان الاردن، چاپ کال:۱۴۲۷، ص۳۳۴.

متناقصه مشارکت له دوه کلمو څخه جوړه شوې، لومړۍ کلمه (متناقصه) چې د مفاعله په وزن ده د (نقص) څخه اخستل شوې چې د پوره والي وروسته د کموالي په معنا ده، دویمه کلمه ( مشارکه) ده چې د شرکت څخه اخستل شوې او د ګډولو په معنا ده چې مخکې مو ترې یادونه وکړه[۱۷۳].

نوموړې مشارکه د مشارکه منتهیة بالتملیك( هغه شرکت چې یو شریک یې په پایله کې مالك ګرځي)، لنډ مهاله(موقت) مشارکه، او متناقصه مشارکې په نومونو سره یادیږي.

متناقصه مشارکه په دې وروستیو کې منځته راغلې او پخوا وختونو کې نه وه، په دې مشارکه د هغو شرکتونو احکام پلي کیږي چې په فقه کې ذکر شوي دي، متناقصه مشارکه د مرکبو تړونونو(عقدونو) له ډلې څخه ده، مرکب تړونونه هغه مالي تړونونه ته ویل کیږي چې په یو وخت کې بېلابېل تړونونه څخه جوړ وي، او د یو تړون حقوق او التزامات(غوښتنې) پرې مرتب کیږي[۱۷٤]، د اصطلاح له مخې متناقصه شرکت لپاره ګڼ شمېر تعریفونه ذکر شوي چې ځینې یې په لاندې ډول یادوو:

لومړی تعریف: متناقصه مشارکه هغه مشارکه ده چې پر بنسټ یې دوه خواوې داسې تړون کوي، چې یو لوری (بانک) د خالصې ګټې څخه د ټاکلې اندازې ګټې د لاسته راوړلولپاره د پروژې په تمویل کې ونډه اخلي، او د شرکت بل لوری( عمیل) دا حق لري چې بانک ته خپله برخه پیسې چې د پروژې تمویل کې یې لګولي په یو ځل، یا پړاویزه توګه په ټاکلې موده کې سپاري، برابره خبره ده چې دغه پیسې چې د عمیل(شریک) له لوري بانک ته ورکول کیږي د همدغه پروژې ګټه وي او یا یې له نورو سرچینو څخه لاسته راوړې وي[۱۷۵]

دویم تعریف: متناقصه مشارکه هغه مشارکه ده چې بانك شریك ته دا حق ورکوي چې د ټاکلو شرطونو په رڼا کې یو ځل، یا پړاویزه توګه د شرکت ملکیت تر لاسه کړي[۱۷٦]

دریم تعریف: متناقصه مشارکه هغه نوې معامله ده چې پر بنسټ یې دوه نفره په یوه پروژه کې شریکان وي، او یو شریك دا ژمنه وکړي چې د بل شریك ونډه به په پړاویزه توګه د همدې پروژې د ګټې، یا د نورو سرچینو څخه لاسته راغلو پیسو په مقابل کې پیري[۱۷۷]

---

۱۷۳. الجوهري، اسماعیل بن حماد، تاج اللغة والحاح العربي، څېړونکی: احمد عبدالغفور عطار، چاپ خونه: دارلکتاب العربی، ج۳ ص۱۰۵۹.

۱۷٤. العمراني، عبدالله محمد، العقود المالیة المرکبة، چاپ خونه: دارکنوز، چاپ کال:۱۴۲۷، ص۴٦.

۱۷۵. الزحیلي، وهبه، المعاملات المالیه المعاصره، ص۴۳۴.

۱۷٦. شبیر، محمد عثمان، المعاملات المالیة المعاصره فی الفقه الاسلامي، ص۳۳۴.

۱۷۷. دبیان، دبیان بن محمد، المعاملات المالیة اصالة ومعاصرة، ج۱۴ ص ۱۴۱.

پورته تعریفونو ته په کتو متناقصه مشارکه داسې تړون ده چې ډېر کله د بانک او بل شخص ترمنځ په ټاکلي توکو یا پروژه کې ترسره کېږي، په دې مشارکه کې دواړه شریکان ژمنه کوي چې یو شریک چې معمولا بانک وي خپله ونډه په بل شریک یا درېیم لوري د مستقل تړون په ترڅ کې پلوري، د بانک د ونډې دا پلورل په یو ځل یا پړاویزه توګه وي، بانک نوموړي ګډ توکي یا پروژه په بېلابېلو ونډو وېشي، او د هرې برخې نرخ ټاکي، چې بل شریک چې د خپل شریک(بانک) د ونډو د پېرېدلو لو تابیا لري په ټاکلو دورو کې د بانک ټوله ونډه چې په پروژه یا ګډو توکو کې یې لري پېري، پدې سره بانک خپله ګټه او پانګه لاسته راوړي، او د ګډې پروژې یا توکو ملکیت بل شریک ته لیږدول کېږي، ځینې وخت داسې هم کېږي چې بانک لومړی د پروژې د عوایدو څخه خپله پانګه او ګټه لاسته راوړي، او بیا خپله ونډه بل شریک ته ور بښي، د متناقصه مشارکې د مفهوم د لا روښانه کولو په موخه لاندې بېلګه ذکر کوو:

احمد غواړي یوه ټوټه ځمکه چې نرخ یې (۱۰۰۰۰۰۰) یو ملیون افغانی ده وپېري، احمد یواځې (۴۰۰۰۰۰) څلور سوه زره افغانی لري، او (۶۰۰۰۰۰) شپږ سوه زره افغانیو تمویل ته اړتیا لري تر څو نوموړې ځمکه وپېري، احمد ملي بانک ته د تمویل په موخه مراجعه کوي، ملي بانک احمد ته (۶۰۰۰۰۰) شپږ سوه زره افغانی د خپلې پالسی په رڼا کې ورکوي، احمد او ملي بانک په ګډه نوموړې ځمکه را پېري، نوموړې ځمکه په ۱۰ ونډو وېشل کېږي، چې ۶ ونډې د ملي بانک، او ۴ ونډې د احمد ملکیت بلل کېږي، دا چې نوموړې ځمکه کرنیزه ده، احمد ټوله ځمکه کښت کوي، او د ملي بانک ونډه چې ۶ ونډې ده احمد په اجاره اخلي، احمد ملي بانک سره ژمنه کوي چې هره میاشت به د ملي بانک یوه ونډه ځمکه پېري چې د نوموړې ځمکې د هرې ونډې نرخ دومره ټاکل کېږي چې د ملي بانک پانګه او ګټه په نظر کې ونیول شي، هره میاشت احمد د ملي بانک یوه ونډه ځمکه رانیسي چې په ۶ میاشتو کې د بانک ټولې ونډې د احمد ملکیت ګرځي.

په پورته بېلګه کې مو ولیدل چې بانک د اړتیا په صورت کې پېرېدونکو ته د تمویل په موخه مالي اسانتیاوې په داسې توګه برابروي، چې د بانګ پانګه او ګټه هم په نظر کې ونیول شي، نوموړی تمویل چې په سودي بانکونو کې د سود پر بنسټ ترسره کېږي، اسلامي بانک یې د متناقصه مشارکې تړون پر بنسټ چې روا، او په اوسني وخت کې ورته اړتیا لیدل کېږي ترسره کوي.

## د متناقصه مشارکې ځانګړنې

متناقصه مشارکه یو لړ ځانګړتیاوې لري چې په لاندې توګه یې یادوو:

۱. متناقصه مشارکه کې یو شریک چې ډېر کله بانک وي، په ټاکلې موده کې د پیسو د سپارلو په صورت کې د خپلې ونډې د پلورلو ژمنه کوي، چې د نوموړې ژمنې پوره کول حتمي وي.

۲. متناقصه مشارکه د مرکبو تړونونو (عقدونو) له ډلې څخه ده. په دې تړون کې الزامي ژمنه (وعده)، بیعه، او ځیني وخت د اجارې تړون سره یو ځای شوي وي، پدې صورت کې اړینه ده چې درې واړه تړونونه جلا تر سره شي، او یو تړون د بل لپاره شرط ونه ګرځول شي، همدارنګه د متناقصه مشارکې په تړون کې په پیرېدونکي د بانک د ونډې اخستل لازمول سم کار نه دی، مګر د تړون وروسته دې مشترې د بانک د ونډو د اخستلو ژمنه وکړي، د یادولو وړ ده چې کله پیرېدونکی د بانک ونډه اخلي د هرې ونډې پېرلو لپاره باید په همغه وخت کې جلا جلا ایجاب او قبول تر سره کړي.

۳. په متناقصه مشارکه کې د تاوان په صورت کې دواړه لوري د پانګې په اندازه تاوان پرېکوي[۱۷۸].

۴. متناقصه مشارکه د هغو کوچنیو پانګوالو اړتیا پوره کوي چې غواړې په کمه پانګه د کارخونې (فابریکې)، ځمکې او یا نورو توکو د ملکیت تر لاسه کولو موخه لري[۱۷۹].

۵. د متناقصه مشارکې پر بنسټ بانک ته دا فرصت ورکول کېږي چې په ټاکلې موده کې خپله پانګه د همدې تړون پر بنسټ مدیریت کړي، او په پایله کې د اصلي پانګې لاسته راوړلو سربېره ګټه هم لاسته راوړي چې په دې سره بانک خپله پانګه له جمود څخه ژغوري او په بازار کې یې خوځنده (متحرکه) ساتي[۱۸۰].

**د متناقصه مشارکې د ترسره کولو کړنلار**

د متناقصه مشارکې په مرسته تمویل لاندې کړنلاره لري

۱. مشتري بانک ته د متناقصه مشارکې پر بنسټ وړاندیز کوي او ټول شرطونه ورته په ډاګه کوي.

۲. د مشتري د وړاندیز وروسته بانک د نوموړې پروژې اړوند معلومات راټولوي او شننه یې کوي، د نوموړې پروژې ټول اړخونه، ګټې، او زیانونه څېړي.

۳. کله چې بانک لپاره په نوموړې پروژه کې تمویل ګټور ښکاره شي، مشتري سره په مناسبه توګه هوکړه کوي.

۴. د پروژې اړوند ټول قانوني اسناد لکه دولت له لوري اجازه او نور اړین توکي بشپړوي.

۵. له دې وروسته بانک تړون چمتو کوي او د دواړو لورو ګټه، تاوان او مسولیت ټاکي، ډېر ځل بانکونه د مشارکې مدیریت پیرېدونکي (عمیل) ته سپاري او بانک یوازې څارنه کوي.

---

۱۷۸. پورته منبع، ج۵ ص۱۴۲-۱۴۳.

۱۷۹. قحف، فاطمة، المشارکة المتناقصة فی الفقه الاِسلامي، د ماستري رساله ده چې په ۲۰۱۸ کال کې مناقشه شوی، ص ۱۷-۱۶.

۱۸۰. پورته مرجع.

۶. د عوایدو او ګټې وېش د تړون پربنسټ ترسره کېږي.
۷. د مشارکت تصفیې لپاره په تړون کې موده ټاکل کېږي، که چېرې په ټاکلې موده کې د عمیل (پېرېدونکي) د غفلت له امله پروژه تکمیل نشي، بانک له دې وروسته یا د زیاتې ګټې په بدل کې دپروژې مدیریت په غاړه اخلي، یا د عمیل (پېرېدونکي) ونډه اخلي، او یا خپله ونډه په مشتري پلوري (۱۸۱)

## د متناقصه مشارکې فقهي څرنګوالی

مخکې مو ولوستل چې متناقصه مشارکه په اوسني وخت کې پیدا شوې، د دې لپاره چې د نوموړې مشارکې فقهي حکم وپېژندل شي، اړینه ده چې د پخوانیو فقهي شرکتونو سره یې چې په پیل کې مو یاد کړل ورته والی روښانه، او بیا دهماغه شرکت احکام پرې پلي شي، په همدې بنسټ د متناقصه مشارکې د فقهي څرنګوالي اړوند د معاصرو فقهاو ترمنځ بېلابېل نظریات شته چې په لاندې توګه یې بیانوو:

لومړی نظر: متناقصه مشارکه د ملک شرکت له ډلې څخه دی، د ملک شرکت هغه شرکت دی چې ایجاب او قبول ته اړتیا نلري، او یو شریک د بل شریک په مال کې پردی او د هغه له اجازې پرته په مال کې هیڅ ډول تصرف نشي کولی .

د دې نظر پلویانو د خپل نظر د تایید لپاره وایي چې د متناقصه مشارکې موخه د ملکیت انتقال (تملیک) دي نه پانګونه(استثمار)؛ ځکه چې په دې مشارکه کې دواړه لوري د توکو د ملکیت د لاسته راوړلو په موخه هوکړه کوي او هغه پېري، د پېرلو وروسته د نوموړي شرکت د پای ته رسولو لپاره پیل کوي چې په پای کې د یو شریک ونډه بل شریک ته د بیعې تړون په مرسته لېږدول کېږي، که چېرې د نوموړي تړون موخه پانګونه( استثمار) وي نو شریکان داسې نکړي چې خپله ونډه په بل وپلوري(۱۸۲).

دویم نظر: متناقصه مشارکه د عقد شرکت له ډلې څخه دی(۱۸۳)دا چې د عقد شرکت پېلابېل ډولونه لري، یو له هغو څخه د عنان شرکت دی چې شریکان پکې په کار او پانګه کې شریک وي، متناقصه مشارکه هم د عقد(تړون) شرکت له ډلې څخه د عنان شرکت سره ورته والی لري چې په کې د یو شریک له لوري بل شریک ته د خپلې ونډې د پلورلو ژمنه شوې وي، د نوموړي نظر پلویان د خپل نظر د ثابتولو لپاره وایي: چې د نوموړي شرکت د رامنځته کولو موخه د مال څخه ګټه اخستنه او پانګونه(استثمار) ده، او په

---

۱۸۱. حقاني، عبدالحق، اسلامي اقتصاد او بانکوالي، افغان پوهنتون له خپرونو څخه، لومړی چاپ، چاپ کال۱۳۹۷هـ ش، ص۲۱۵.

۱۸۲. دبیان، دبیان بن محمد، المعاملات المالیة اصالة ومعاصرة، ج۱۵ ص۱۴۶-۱۴۷.

۱۸۳. شبیر، محمد عثمان، المعاملات المالیة المعاصرة، ص ۳۴۱، زحیلي، وهبه، المعاملات المالیة المعاصرة،ص۴۳۶.

دې شرکت کې هر شریک د بل شریک وکیل، او د نوموړي شرکت د کامیابولو لپاره د پوره ازادي درلودونکی دی[١٨٤].

دریم نظر: متناقصه مشارکه د نوو تړونونو له ډلې څخه ده چې په اوسني وخت کې منځته راغلې ده، او د هغو شرکتونو سره چې په فقه کې ذکر شوي هېڅ اړیکه نلري، پر همدې بنسټ متناقصه مشارکه عنان شرکت نه شو ګڼلی، ځکه چې متناقصه مشارکه کې د شریکانو ترمنځ وکالت نشته، او نه په کې شریکان پوره ازادي لري کوم چې په عنان شرکت کې باید وي، همدارنګه نوموړی شرکت مضاربه نه شو ګڼلی ځکه چې په دې شرکت کې پانګه یو لوري ته د کار په موخه نه سپارل کېږي، نو ویلی شو چې نوموړی شرکت نوی شرکت ده او د پخوانیو فقهي شرکتونو سره اړیکه نلري[١٨٥].

څلورم نظر: متناقصه مشارکه کله د ملك شرکت له ډلې څخه وي او ځینې وخت د عقد شرکت له ډلې څخه وي، کله چې د متناقصه مشارکې موخه د کورونو، موټرو او دېته ورته توکو تمویل وي، په دې صورت کې نوموړی شرکت د ملك شرکت له ډلې څخه ده او د ملك شرکت احکام پرې پلي کېږي، او کله چې د متناقصه مشارکې موخه د سوداګریزو پروژو تمویل وي په دې صورت کې متناقصه مشارکه د عقد شرکت له ډلې څخه ګڼل کېږي، په همدې اساس لازمه ده چې په متناقصه مشارکې باندې حکم د بانك او د عمیل (شریك) ترمنځ د اړیکې څېړلو وروسته و شي، ځکه چې بانکونه د متناقصې مشارکې بېلابېلې بڼې ترسره کوي، چې ځینې یې د ملك شرکت، او ځینې نورې یې عقد شرکت ګڼل کېږي چې هره بڼه یې جلا حکم لري[١٨٦].

د متناقصه مشارکې د استعمال ځایونه

متناقصه مشارکه په معاصر اقتصاد او بانکي سیستم کې د لویو او کوچنیو پروژو د تمویل لپاره مناسبه وسیله بلل کیږي په ځانګړې توګه زموږ هیواد افغانستان کې چې وګړي یې مسلمانان دي او غواړي چې د خپلو پروژو او کاروبارونو اړوند مالي اړتیاوې او تمویل د اسلامي شریعت سره سم تر لاسه کړي، د همدې موخو د لاسته راوړلو لپاره متناقصه مشارکه غوره وسیله بلل کېږي، نوموړې مشارکه کولی شي چې ګڼو برخو کې د اړمنو مالي ستونزې په مناسبه او معقوله توګه حل کړي، د متناقصه مشارکې د استعمال ځایونه ډېر دي ځینې مهم یې په لاندې توګه یادوو:

١. صنعت برخه: په افغانستان کې د صنعت د ځواکمنتیا په موخه اسلامي بانکونه کولی شي په صنعتي پروژو کې د متناقصه مشارکي پر بنسټ تمویل کې فعاله ونډه واخلي، د بېلګې په توګه محمود غواړي

---

١٨٤. دبیان، دبیان بن محمد، المعاملات المالیة اصالة ومعاصرة، ج١٥ ص١۴٩.

١٨٥. مجلة مجمع الفقه الإسلامي، ١٣ ګڼه ص٩٦٩.

١٨٦. پورته منبع، ١٣ ګڼه ص٦۴٦، دبیان، دبیان بن محمد، المعاملات المالیة اصالة ومعاصرة، ج١٥ ص١٥١.

چې په کابل کې د طبي ماشین الاتو د جوړولو کارخونه(فابریکه) جوړه کړي، د دې کارخونې (فابریکې) د جوړولو لپاره محمود یوه اندازه پانګه لري، او یوه اندازه نورې پانګې ته اړتیا لري، افغان ملي بانګ د طبي ماشین الاتو اړتیا ته په کتو محمود سره د نوموړې صنعتي پروژې په تمویل کې د متناقصه مشارکې پربنسټ ونډه اخلي، ملي بانګ محمود ته د نوموړې پروژې د تمویل په موخه هغه اندازه پانګه چې محمود ورته د نوموړې پروژې د فعالولو لپاره اړتیا لري ورکوي، او ملي بانګ له محمود سره د ورکړل شوې پانګې په اندازه شریک بلل کېږي، د پروژې د فعالولو وروسته ملي بانک خپله ونډه په محمود د هغه مالي حالاتو ته په کتو په یو ځل او یا په پړاویزه توګه پلوري چې په دې سره ټوله صنعتي کارخونه(فابریکه) د محمود ملکیت ګرځي.

۲. کرهنې برخه : افغانستان کرنیز هیواد ده، سرشاره اوبه، هموارې او حاصلخیزه ځمکې د کښت لپاره مناسب چاپیریال برابروي، دا چې په ګران هیواد کې خلک د بې وزلۍ ښخه کړېږي او نشي کولی د کرنیزو توکو پروسس، پرته له مالي تمویل څخه ترسره کړي، اسلامي بانک کولی شي پدې برخه کې د متناقصه مشارکې پر بنسټ تمویل ترسره کړي، او د پروسس لپاره د اړتیا وړ توکې د متناقصه مشارکې تړون پر بنسټ لاسته راوړي.

۳. د روغتیا برخه: افغانستان د روغتیا په برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخ دی، نوموړې ستونزه د پرمختللو وسایلو، مجهزو روغتونو پر مټ هوارېدلی شي، دا چې د مجهز روغتون جوړول زیاتې پانګې ته اړتیا لري، یو شخص نشي کولی دومره اندازه پانګه له ځانه سره ولري، اسلامي بانک کولی شي نوموړی شحص د روغتون په جوړولو کې د متناقصې مشارکې پر بنسټ تمویل کړي، یوه اندازه پانګه د شخص له لوري او پاتې پانګه د اسلامي بانک له لورې ورکول کېږي، او نوموړی روغتون پرې جوړېږي، د روغتون د جوړېدو وروسته د تړون سره سم حالاتو ته په کتو اسلامي بانک خپله ونډه په بل لوري پلوري.

۴. د کورونو برابرو لو برخه: متناقصه مشارکه د کورونو په برابرولو کې د تمویل لپاره غوره وسیله بلل کېږي، د بېلګې په توګه احمد کور ته اړتیا لري، په دومره کچه پیسې نلري چې کور واخلي، اسلامي بانک احمد ته د متناقصه مشارکې پربنسټ د تمویل زمینه برابروي او هغه کور احمد سره په شریکه اخلي، کله چې احمد مالي توان پیدا کړي د بانک ونډه هم اخلي چې په دې سره احمد د ټول کور مالک ګرځي.

ځینې وخت یو شخص ځمکه لري خو د ابادولو لپاره یې مالي توان نلري، اسلامي بانک کولی شي د نوموړې ځمکې په ابادۍ کې د متناقصه مشارکې پربنسټ رغنده رول ولوبوي، نوموړې ځمکه بانک

ابادوي او هستوګنيز کورونه پکې جوړوي، چې بانک د ځمکې خاوند سره په يادو هستوګنيزو کورونو کې شريک ګرځي، لدې وروسته د ځمکې خاوند کولی شي چې په راتلونکې کې د بانک ونډه هستوګنيز کورونه په پړاويزه توګه واخلي او د ټولو کورونو مالک وګرځي[۱۸۷].

له پورته توضيحاتو څخه معلوميږي چې متناقصه مشارکه د ټولو پروژو په تمويل کې رغند رول لوبوي، بانک د پروژې د تمويل لپاره پانګه برابروي او د پروژې د سرته رسولو وروسته بانک ګټه هم لاسته راوړي، بانکونه د خپلې ګټې په نظر کې نيولو سره نوموړې پروژې تمويلوي، او نه غواړي چې په يادو پروژو کې زياته موده ونډه واخلي، خپله ونډه په بل لوري او يا په درېيم لوري د ګټې تر لاسه کولو په موخه پلوري.

۵. دورادتو او صادراتو برخه: اسلامي بانکونه دا وړتيا لري تر څو د متناقصه مشارکې او مضاربت پر بنسټ واردات او صادرات دواړه تمويل کړي.

د وارداتو په برخه کې: د بېلګې په توګه کله چې افغان سوداګر له بهر څخه توکي واردوي، په بهر کې د توکو خرڅونکي ته د توکو ټول قيمت نه سپاري، افغان سوداګر اړدې چې په افغانستان يا په بهر کې له بانک څخه باورپاڼه(L.C) تر لاسه کړي تر څو بهرمېشت د توکو خرڅونکی پرې باور وکړي او خپلې پيسې د باورپاڼې(L.C) خپرونکي بانک څخه تر لاسه کړي، نو که چېرې افغان واردوونکي سوداګر ته د باورپاڼې(L.C) خپرونکي بانک ته د پيسو ورکولو پرته باورپاڼه(L.C) خپره کړې وي، دا تړون کې پر مضاربه عمل کيدلی شي، او که افغان واردوونکي سوداګر ته د باورپاڼې(L.C) خپرونکي بانک د يو اندازه پيسو په مقابل کې باورپاڼه(L.C) خپره کړې وي، په دې صورت کې په مشارکه، يا مشارکه او مضاربه دواړو عمل کيدلی شي.

اوس که چېرې د واردونکي سوداګر او د باورپاڼې(L.C) خپرونکي بانک تر منځ د مشارکې تړون کېږي، نو وارد شوي توکي د بانک او سوداګر تر منځ د خپلې پانګې په اندازه شريک دي، که چېرې دغه توکي په ټاکلې موده په بازار کې ونه پلورل شي بانک خپله ونډه د بازار په نرخ يا په هغه نرخ چې بانک او سوداګر پرې هوکړه کوي په خپل شريک پلوري.

د صادراتو برخه: د صادراتو په تمويل کې هم متناقصه مشارکه او مضاربه رغنده رول لوبوي، که چېرې د صادرېدونکو توکو په تيارولو کې ټوله پانګه بانک ورکوي، په دې صورت کې د مضاربت تړون عملي

---

۱۸۷. مجلة مجمع الفقه الإسلامي، ۱۳ ګڼه ص۹۹۱ په پوره تصرف سره

کیدلی شي، او که چېرې د صادرېدونکو توکو په تیارولو کې بانك او بل لوری برخه واخلي نو په مشارکه عمل کیدلی شي[۱۸۸].

له دې څخه معلومیږي چې متناقصه مشارکه د روا لارو چارو په مرسته د یو هیواد په داخل کې د اقتصادي پروژو سربېره د وارداتو او صادراتو په تمویل کې مهم رول لوبولی شي.

### د متناقصه مشارکې حکم

د متناقصه مشارکې د حکم اړوند د فقهاو ترمنځ درې نظریات شته چې په لاندې توګه یې ذکر کوو:

لومړی نظر: د لومړي نظر پلویان وايي چې متناقصه مشارکه روا نده، دوی د خپل نظر د تایید لپاره په یو شمېر دلیلونه ذکر کوي چې ځینې یې په لاندې ډول دي[۱۸۹].

۱. متناقصه مشارکه په حقیقت کې د شرکت په نوم د سود په مقابل کې پور ده؛ ځکه چې په دې معامله کې بانك او شریك(عمیل) یو بل سره د مشارکې اراده نلري، بانك له پیل څخه د پروژې د پای ته رسیدلو څخه مخکې د نومونړي ترون څخه د وتلو پټ هوډ لري، نو کله چې هر یو له دواړو لورو څخه خپله موخه تر لاسه کړي نوموړی ترون له منځه ځي، چې دا په حقیقت کې د ګټې لپاره پور ورکول دي چې بانك یې بل لوري ته ورکوي او څه موده وروسته خپل پور د ګټې سره یوځای بېرته لاسته راوړي[۱۹۰].

شننه: دا دلیل چې متناقصه مشارکه د ګټې په مقابل کې پور ده سمه نه برېښي، ځکه چې د ګټې په مقابل کې پور ورکونکی هیڅ خطر نه لري، او په متناقصه مشارکه کې دواړه لوري د خپلې پانګې په اندازه تاوان تر لاسه کوي، په سودي پور کې چې کومه ګټه لاسته راځي هغه د ضمان پرته لاسته راځي، او په متناقصه مشارکه کې چې کومه ګټه لاسته راځي هغه د ضمان په مقابل کې لاسته راځی چې دا له شرعي اړخه ستونزه نلري.

۲. متناقصه مشارکه د عینې بیعې یوه بڼه ده کومه چې په شریعت کې ناروا ده، ځکه چې پدې مشارکه کې مشتري دا ژمنه کوي هغه څه یې چې اخیستي د همغه مال مالك او خرڅوونکي ته دوباره پلوري[۱۹۱].

---

۱۸۸. حقاني، عبدالحق، اسلامي اقتصاد او بانکوالي، ص۲۲۴ له تصرف سره.

۱۸۹. دبیان، دبیان بن محمد، المعاملات المالیة اصالة ومعاصرة، ج۱۵ ص۱۵۴.

۱۹۰. پورته مرجع،او، قحف، فاطمة، المشارکة المتناقصة فی الفقه الِاسلامي، ص۱۷.

۱۹۱. دبیان، دبیان بن محمد، المعاملات المالیة اصالة ومعاصرة، ج۱۵ ص۱۵۷

شننه: د عېنې بیعه په حقیقت کې دوه بیعې وي، لومړي بیعه حال(فعلي) او دوهمه بیع مؤجل(په نیټه) وي، او په متناقصه مشارکه کې د بیعې تړون نشته بلکې دا تړون د مشارکې تړون ده، له هغې وروسته که د دواړو لورو خوښه وي یو شریک خپله ونډه د بازار په نرخ د بیعې د مستقل تړون پر بنسټ پلوري[۱۹۲].

دویم نظر: د دې نظر خاوندان وایي چې متناقصه مشارکه مطلقا روا ده[۱۹۳]، د نوموړي نظر پلویانو د خپل نظر د تایید لپاره یو شمېر دلیلونه ذکر کړی چې ځینې یې په لاندې توګه بیانوو:

۱. هغه عام دلایل چې د شرکت په روا والي دلالت کوي او د عام شرکت د مشروعیت په بحث کې مو ذکر کړي، متناقصه مشارکه هم د عام شرکت یو ډول ده او همغه دلایل د متناقصه مشارکې په روا والي هم دلالت کوي.

۲. متناقصه مشارکه عنان شرکت ده، او د یو شریک له لوري پکې د خپلې ونډې د پلورلو او یا په اجاره ورکولو ژمنه شتون لري، چې دا شرط د عقد د مقتضی او غوښتنې څخه خلاف نده، او نه د شریعت سره په ټکر کې دی، د دې سربېره د نوموړې مشارکې اړوند داسې دلیل نشته چې په ناروا والي یې ښکاره دلالت وکړي[۱۹۴].

۳. اصل په معاملاتو کی اباحت او روا والی ده تر څو چې یې د ناروا والي دلیل نه وي، نو متناقصه مشارکه د معاملاتو له ډلې څخه ده، داسې هېڅ دلیل د قران، سنت، اجماع او قیاس څخه نشته چې نوموړې معامله ناروا وبولي[۱۹۵].

۴. متناقصه مشارکه د وفا بیعې سره ورته والی لري؛ ځکه چې بانک د نوموړي شرکت ونډه اخلي او له هغه څخه استفاده کوي، تر څو چې بل شریک (چې خرڅونکی هم بلل کیږي) بانک ته د نوموړې ونډې قیمت وسپاري لکه څرنګه چې په بیع الوفاء کې وي[۱۹۶].

دریېم نظر: د دې نظر پلویان وایي چې متناقصه مشارکه د یو لړ شرطونو په نظر کې نیولو سره روا ده، دا شرطونه په لاندې ډول دي:

۱. متناقصه مشارکه یوازې د قرض په وسیله تمویل نه وي، اړینه ده چې د نوموړي شرکت لپاره منظمه اداره شتون ولري، او دواړه لوري د اصولو سره سم په ګټه او تاوان کې شریک وي.

---

۱۹۲. پورته منبع، ص۱۵۸

۱۹۳. مجلة مجمع الفقه الإسلامي، ۱۵ ګڼه ج ۱ص۵۲۸، او ۱۳ ګڼه ج ۲ص ٦۴۲.

۱۹۴. دبیان، دبیان بن محمد، المعاملات المالية اصالة ومعاصرة، ج۱۵ ص ۱٦۰.

۱۹۵. قحف، فاطمة، المشاركة المتناقصة فى الفقه الاِسلامي، ص۱۸

۱۹٦. شبير، محمد عثمان، المعاملات المالية المعاصرة فى الفقه الاسلامي، ص۳۳٦، ۳۳۷.

۲. بانک باید په پوره توګه د خپلې ونډې مالک وي، او د خپلې ونډې په اداره کې د ټولو حقوقو او تصرفاتو څخه ګټه واخلي، او کله چې بل شریک وکیل ونیسي بانک لپاره پکار ده چې منظمه څارنه یې وکړي.

۳. په متناقصه مشارکه کې باید داسې شرط نه وي چې پر بنسټ یې شریک، بانک ته د هغه خپله ونډه او پانګه په پوره توګه د ګټې سره وسپاري، ځکه چې دا شرط لګول متناقصه مشارکه کې د سود شبهه پیدا کوي[۱۹۷].

د پورته شرطونو سربېره د اسلامي فقهې ټولنې چې مرکز یې د جدې ښار کې ده ځینې شرطونه ذکر کړي چې شتون یې په متناقصه مشارکه کې اړین دی، نوموړي شرطونه په لاندې ډول دي:

۱. شریک به دا ژمنه نه کوي چې د بل لوري ونډه به د مشارکې د ایجاد د ورځې په نرخ اخلي ځکه چې دا شرط سره د یو شریک د پانګې تضمین راځي او دا روا نده.

۲. د مشارکې یو لوری به د بیمې، ساتنې او نور لګښتونه په غاړه نه اخلي، دا ټول لګښتونه به د شرکت پر بنسټ دواړه لوري ادا کوي.

۳. ګټه باید د وېشل شوي نسبت پر بنسټ و ټاکل شي، د ټاکلې ګټې شرط کول روا ندي.

۴. متناقصه مشارکه د مختلفو عقدونو(تړونونو) ټولګه ده، د هر عقد(تړون) التزامات باید مشخص او جلا جلا ترسره شي.

۵. یو شریک باید د خپلې ورکړې پانګې واپس کول شرط ونه ګرځوي[۱۹۸]

**غوره نظر**

د پورته نظریاتو څخه دریېم نظر چې د یولړ شرطونو په نظر کې نیولو سره متناقصه مشارکه روا بولي غوره نظر دی، او په اوسنیو حالاتو کې د نوموړي نظر پلي کولو کې د ټولنې د وګړو مصلحت نغښتی ده. والله اعلم

**پایلې**

د نوموړې څېړنې وروسته لاندې پایلو ته رسېږو:

۱. اسلامي شریعت په هر وخت کې د پلې کیدلو وړتیا لري، او د اقتصادي پېښو په شمول ټولو پېښو ته سالم حل لري.

---

[۱۹۷]. پورته مرجع.

[۱۹۸]. قرار مجمع الفقه الإسلامي، شماره ۱۳۶ ج۲ص۱۵، المعاییر الشرعیة، هیئة المحاسبة والمراجعة للمؤسسات المالیة، معیار الشرکات والشرکات الحدیثة، ص۳۴۵- ۳۴۶.

۲. اسلامي اقتصاد کې د لويو، منځنيو، او کوچنيو پروژو د تمويل لپاره متناقصه مشارکه تر ټولو غوره لاره ده.

۳. په اسلامي ټولنه کې ټولې مالي راکړې ورکړې بايد د اسلامي شريعت د اصولو سره سم تر سره شي، هغه لارې چارې چې اسلام د مال لاسته راوړلو لپاره ټاکلي پلې شي، او د هغه لارو چارو څخه چې اسلام منعه کړي ډډه وشي.

۴. په اسلامي اقتصاد کې د سود پر بنسټ تمويل او پورونه په کلکه منعه شوي، او هغه تمويل ته يې اجازه ورکوي چې د مشارکې تړون پر بنسټ تر سره کيږي، چې د اخلاقي ستونزو سربېره د سود پر بنسټ تمويل ګڼې اقتصادي ستونزې زيږوي.

**منابع**

قرانکریم

ابن عابدين، محمد أمين بن الحنفي . (١٤١٢هـ)، رد المحتار على الدر المختار، چاپ خونه: دار الفكر، بيروت، دوهم چاپ.

ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين عبد الله. (ب - ت)، المغني، چاپ خونه: مكتبة القاهرة.

أفندي، علي حيدر. (١٤١١هـ)، درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، چاپ خونه: دار الجيل، لومړی چاپ.

الأيوفي، المعايير الشرعية.(٢٠١٧م)، هيئة المحاسبة والمراجعة للمؤسسات المالية، معيار الشركات والشركات الحديثة.

بلخي، نظام الدين البلخي وجمع من العلماء.(١٣١٠ هـ)، الفتاوى الهندية، چاپ خونه: دار الفكر ، دوهم چاپ.

الجوهري، اسماعيل بن حماد.(ب – ت)، تاج اللغة وصحاح العربي، څېړونکی: احمد عبدالغفور عطار، چاپ خونه: دارلكتاب العربى.

حقاني، عبدالحق.(١٣٩٧هـ ش)، اسلامي اقتصاد او بانكوالي، افغان پوهنتون له خپرونو څخه، لومړی چاپ.

دبيان، أبو عمر دبيان بن محمد.(١٤٣٢ هـ)، المعاملات المالية أصالة ومعاصرة، چاپ خونه، مكتبة الملك فهد الوطنية.

الزحيلي، وهبه.(ب-ت)، الفقه الاسلامي وآدلته، چاپ خونه: دارلفكر، سوريه.

الزحيلي، دكتور وهبه.( ١٤٢٧هـ ش)، المعاملات الماليه المعاصره، چاپ خونه: دارالفكر، دمشق، دريم چاپ.

السجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث. (١٤٣٠ هـ)، السنن، څېړونکی: شعيب الأرنؤوط او محمد كامل قره بللي، چاپ خونه: دار الرسالة العالمية، لومړی چاپ.

شبير، محمد عثمان.( ١٤٢٧هـ ش)، المعاملات المالية المعاصره فى الفقه الاسلامي، چاپ خونه، دار النفائس، عمان الاردن.

الصاوي، ابوالعباس أحمد بن محمد. (ب- ت)، الشرح الصغير وحاشية الصاوي، چاپ خونه: دارالمعارف.

العمراني، عبدالله محمد.( ١٤٢٧هـ ش)، العقود المالية المركبة، چاپ خونه: داركنوز.

الفيومي، أحمد بن محمد أبو العباس.(ب- ت)، المصباح المنير في غريب الشرح الكبير، چاپ خونه: المكتبة العلمية.

قحف، فاطمة، المشاركة المتناقصة فى الفقه الاِسلامي، د ماستري رساله ده چې په ٢٠١٨ كال كې مناقشه شوى.

القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد.(١٣٨٤هـ)، الجامع لأحكام القرآن، څېړونکی: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، چاپ خونه: دار الكتب المصرية – القاهرة، دوهم چاپ.

قلعه جي، محمد رواس.(١٤٢٣هـ ق )، المعاملات المالية المعاصره في ضوء الفقه والشريعة، دارالنفائس، بيروت لبنان، دوهم چاپ.

الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود. ( ١٤٠٦هـ )، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، .(المتوفى: ٥٨٧هـ). چاپ خونه:دار الكتب العلمية، دوهم چاپ.